# لوګر پوهنتون

## کرنې پوهنځي

### ستراتیژیک پلان کمېټه

# ستراتیژیک پلان

## (۱۴۰۴ – ۱۴۰۸) ل.ل

بسم الله الرحمن الرحیم

# د مطالبو لړلیک


د کرني پوهنځي د رئیس پیغام ........ 2
مفاهیم ........ 4
د ستراتیژیک پلان چوکاټ یا موډل ........ 7
سریزه (کلیات) ........ 8
د کرني پوهنځي لنډه پیژندنه ........ 9
د کرني پوهنځي تشکیلاتي چارت ........ 10
د کرني پوهنځي د محصلینو اړوند معلومات ........ 10
د کرني پوهنځي اوسنی کړني ........ 11
د لرلید بیانیه ........ 11
د مأموریت بیانیه ........ 11
بنسټیز ارزښتونه ........ 11
د کرني پوهنځي ستراتیژیکي موخي ........ 12
د لوګر پوهنتون ستراتیژیکي موخو لاندي د کرني پوهنځي برنامي ........ 12
د چاپیریال بررسي ........ 13
د کورني چاپیریال د عواملو تحلیل ........ 13
د قوتونو برخه: ........ 13
د ضعفونو برخه: ........ 14
د کورنیو عواملو د تحلیل میټریکس (IFEM) ........ 14
د بهرني چاپیریال د عواملو تحلیل ........ 15
د فرصتونو برخه: ........ 15
د تهدیدونو برخه: ........ 16
د بهرنیو عواملو د تحلیل میټریکس (EFEM) ........ 16
د (کورني + بهرني) چاپیریال د عواملو پرتله (د ستراتیژیانو ټاکل او تطبیق) ........ 17
IE میتود ........ 17
SWOT میتود ........ 18
د پوهنځي د ستراتیژیانو ټاکنه ........ 20
د ستراتیژیک لومړیتوب ټاکل ........ 21
د ستراتیژیک لومړیتوب ټاکنه ........ 107
لنډمهاله/ کوچنۍ موخي ........ 109
د ستراتیژۍ تطبیق ........ **Error! Bookmark not defined.**
د ستراتیژیانو د تطبیق لپاره زمینه برابرول ........ **Error! Bookmark not defined.**
د ستراتیژۍ کنټرول او نظارت ........ **Error! Bookmark not defined.**

# د کرنې پوهنځي د رئیس پیغام

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدنا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین**

د لوګر پوهنتون کرنې پوهنځي په ۱۳۹۸ کال کې د کرنیز اقتصاد او پراختیا او اګرانومي څانګو په لرلو سره تأسیس شوه او خپلې اړوند تدریسي او اداري چارې یې د شپږو تنو استادانو په لرلو سره راپیل کړې. د تأسیس له نیټې څخه تر دې دمه یې د ګڼو ننګونو سربیره د هیواد د ځوان کهول د اسلامي او مسلکی روزنې لړۍ جاري ساتلې او له یادو دریو څانګو څخه یې سلګونه په نویو مسلکي پوهو او ځانګړو مهارتونو سمبال ځوانان فارغ او ټولنې ته وړاندې کړي دي. کرنې پوهنځي تر ۱۴۰۴ کال پورې په اګرانومی او کرنیز اقتصاد او پراختیا په برخه کې په اسلامی او مسلکی زده کړو سمبال (۱۵۶) محصیلین ټولنې ته وړاندې کړي دي.

د کرنیز سیستم د ښه والی او پر بنسټ یې د نړۍ منلو معیاري زده کړه ییزو او څېړنیزو چوپړتیاوو وړاندې کول، په بیلابیلو پوهنځیو کې د ابتکار او نوښت وده، د فساد مخنیوی، د څېړنیزو چارو پراختیا او پرمختیا، په ظرفیت لوړونه باندې پانګونه او داسې نور د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت د لومړنیو او بنسټیزو اهدافو څخه ګڼل کېږي. د یادو اهدافو تحقق د پیاوړو، ژمنو او متخصصو بشري ځواکونو په برخه کې د هېواد د کرنیز سکتور پیاوړتیا له ځان بسیاینې سره بشپړه مرسته کوي، هغه څه دې چې له ځان سره د اقتصادي او علمي ودې پیغامونه لري.

کرنې پوهنځي د یو ارزښت لرونکي پوهنځي په توګه تر خپلې وسې پوره هلې ځلې کوي چې په دې برخه کې خپله وړتیا وښیي او د پورتنیو اهدافو د ترلاسه کولو په پار له پوهنتون او د پوهنتون له رهبری سره په همغږۍ کې مخ پر وړاندې حرکت وکړي. د دې هدف تر لاسه کول به تنها د هېواد اقتصاد پیاوړي کړی بلکی زموږ ګران هېواد افغانستان ته به د صنعتې کیدو په پار خوځښت د منظمې بشپړتیا او چاپېریال د تغیراتو سره د اغېزمن تعامل په پار، کرنې پوهنځې له (۱۴۰۴- ۱۴۰۸) ل.ل کلونو پورې یو منظم، منطقي او په سرچینو ولاړ ستراتیژیک پلان ترتیب کړی دی. په نوموړي پلان کې د یادې پوهنځي لرلید، مأموریت، ارزښتونه، موخې، فرصتونه، تهدیدونه، قوتونه، ضعفونه، تشکیلات، سرچینې او نور اړونده موارد په بشپړو جزئیاتو سره تشریح شوي دي. هېره د نه وي چې نوموړی پنځه کلن ستراتیژیک پلان د لوګر پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت له ستراتیژیکو موخو او لومړیتوبونو او د افغانستان اسلامي امارت له ټولو قوانینو او پالیسو سره بشپړ تطابق لري او ډاډمن یو چې په خپله کچه به په راتلونکو پنځو کلونو کې ټولو کرنیزو تغیراتو ته پر خپل وخت او د منطق په چوکاټ کې عاقلانه ځواب و وایي.

د کرنې پوهنځي مشرتابه باور لري چې د یاد زده کړه ییز بنسټ د علمي کادر غړي به په پوره ژمنتیا، ربښتینولۍ، ځیرکتیا، پیاوړتیا، ایماني ځواک او هېوادنۍ مینې او خلوص سره د نوموړي پلان په پلي کولو کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي، ننګونو ته به تر وسې وسې پر خپل وخت ځواب ورکړي او په پوره ځیرکتیا سره به د فرصتونو د جذب او ګټنې په برخه کې غښتلي ګامونه اوچت کړي. لوګر پوهنتون د دې ستراتیژیک پلان بریالي پلي کولو په پار د لوړو زده کړو وزارت، افغان ټولنې او نورو ټولو ذیعلاقه بنسټونو او اړخونو پر لور سترګې اړوي؛ چې د معیاري او ټول منلو زده کړه ییزو چوپړتیاوو وړاندې کولو، ټولنیزو مسئولیتونو اداینې، ټولنې په پرمختیا کې رښتینو هڅو او هېواد رغونې په برخو کې د رښتینو هڅو او اقداماتو ترسره کولو په چوکاټ کې د یادو اړخونو د بشپړو مرستو کولو تمه لرو او تر څنګ یې ډاډمن یو چې هغوی به د تل په څېر زمونږ سره مله پاتې شي.

اړینه ګڼو یاده شي چې، کرنې پوهنځي د خپلو پیاوړ بشري او نسبتاً بسیا او ورځې د غوښتنو مطابق فزیکي او مالي سرچینو په درلودلو سره بشپړ باور لري چې، کولای شي په ټاکلي وخت کې خپل رسالت ترلاسه او د هېواد د غیرتي بچو د واقعي روزنې له لارې د هېواد رغونې او علمي پرمختیا سره بشپړه مرسته وکړي او له دې لارې له خپلو کړېدلو هېوادوالو سره کړې ژمنې پوره او خپل ایماني، وجداني او افغاني مسئولیت ادا کړي. مونږ نه هېروو چې د پرمختګ او سوکالۍ راوستلو لاره نه هواره او نه ژر طی کېدونکې ده، مګر ډاډمن یو چې زمونږ د قوي او نه ماتېدونکې ارادې غوټۍ به سپړېږي؛ په دې سره مونږ خپل سازماني ژوند ته معنا ورکوو او نه پرېږدو چې شرایط زمونږ ژوند ته هویت او معنی ورکړي.

په پای کې اړینه ګڼم چې د دې ستراتیژیک پلان ترتیبولو په درشل کې د کرنې پوهنځي کمېټې د قدرمنو غړو د تویې کړو خولو او نه ستړې کېدونکو هلو ځلو د درناوی په پار له هغوی ټولو څخه مننه وکړم او د لایزال ذات غنی دربار ته لاسونه لپه کوم چې په دې برخه کې د هغوی ترسره کړې چارې په عبادت قبولې او د اسلامي نړۍ د نېکمرغۍ لامل وګرځوي.

**پوهنیار فواد ناصری**
**د کرنې پوهنځي رئیس**

## مفاهیم

د لوګر پوهنتون، کرنې پوهنځي په دې ستراتیژیک پلان کې ځای پر ځای شوي ځینې مفاهیم په لاندې توګه پېژندل کېږي.

1. **پلان**: هغه ذهني چوکاټ دی چې موخې پکې اټکل کېږي. په بل عبارت، په منظمه او سیستماتیکه توګه د ټاکل شوو موخو د ترلاسه کولو لپاره له وړاندې څخه تیارې شوې طرحې ته پلان ویل کېږي.
2. **پلان جوړونه**: د راتلونکې پر وړاندې د ممکنه بهترینو معلوماتو په درلودنې سره د سیستماتیکو پرېکړو، دې پرېکړو د پلي کولو لپاره د اړینو هڅو منظمې سازماندهی او د غبرګون عامل له لارې د متوقعه او واقعي پایلو د سنجش او پرتلې یوې دوام لرونکې پروسې ته پلان جوړونه ویل کېږي. په بل عبارت، پلان جوړونه د یو مطلوب وضعیت تصور او طرحه او دې وضعیت ته په آسانه توګه د رسېدو لپاره د وسایلو موندنه او اټکل دی.
3. **ستراتیژي**: د پوهنتون د اوږدمهاله موخو ټاکلو او دې موخو د ترلاسه کولو لپاره د اړینو اقداماتو او سرچینو ټاکنې او ځانګړې کولو پروسې ته ستراتیژي ویل کېږي. په بل عبارت، ستراتیژي د یو فعالیت د پایلو او ترسره کولو د وسایلو په هکله د بنسټیزو او حساسو پرېکړو یوې ټولګې ته ویل کېږي.
4. **ستراتیژیک پلان**: ستراتیژیک پلان هغه پروسه چې د سازمان لپاره پکې موخې ټاکل کېږي، د سازمان راتلونکی انځوروي او هغه کورنې او باندنې فشارونه منعکسوي چې سازمان تغیر ته اړ کوي.
5. **ستراتیژیکه پلان جوړونه**: ستراتیژیکه پلان جوړونه د بنسټیزو پرېکړو او اقداماتو یوه منظمه هڅه ده چې پر بنسټ یې؛ یو ارګان څه شی دی؟ کوم فعالیتونه ترسره کوي؟ او ولې دا فعالیتونه ترسره کوي؟ پوښتنو ته ځوابونه ویل کېږي. په بل عبارت، ستراتیژیکه پلان جوړونه هغه پروسه ده چې په یو خوځنده او سیالیز چاپېریال کې د یو ارګان د مأموریت او موخو ترلاسه کولو په پار د یاد ارګان سرچینې تخصیصوي.
6. **عملیاتي پلان جوړونه**: د اړینو بشري سرچینو، لګښتونو او وخت په تفکیک سره، د ځانګړو مېتودونو، وسایلو او امکاناتو له لارې د ستراتیژیکو موخو د تحقق لپاره د پړاوونو ټاکلو او کړنو تسلسل پروسې ته عملیاتي پلان جوړونه ویل کېږي.
7. **د چاپېریال بررسي:** په کورنې او بهرنې چاپېریالونو پورې اړوندو، یو ارګان باندې اغېز لرونکو عواملو او معلوماتو څارنه، ارزونه او د ارګان د کلیدي غړو تر منځ شریکولو پروسې ته د چاپېریال بررسي ویل کېږي.
8. **فورمولبندي (تدوین)**: د چاپېریال تر مطالعې وروسته، د ستراتیژیک پلان د ترتیب دوهم پړاو دی، چې پکې د یو ارګان د پایښت، ګټې او ودې دری ګونو موخو ترلاسه کولو لپاره، له بهرنې چاپېریال سره د تعامل څرنګوالی، موخې، اقدامات، سرچینې او په ټوله کې له بهرنې چاپېریال سره د برخورد نقشه ترسیمېږي.
9. **تطبیق**: د پلان تطبیق، د پلان تر تدوین وروسته یو مهم پړاو دی او هغې پروسې ته اشاره کوي چې پر مټ یې ټولې کړنلارې او ستراتیژۍ له تیوریکي او نظري چوکاټ څخه د عمل میدان ته ځي او پلي کېږي.
10. **کنټرول**: کنټرول هغه پروسه ده چې پر مټ یې کړنې او د هغو پایلې د متوقعه او واقعي پایلو تر منځ د واټن معلومولو په پار څارل کېږي. په بل عبارت، کنټرول هغه پروسه ده چې په پلي کېدو سره یې یو ارګان معلومات مومي چې، آیا د موخو ترلاسه کولو په مسیر باندې خوځښت دام مومي او که نه؟.
11. **لرلید**: د راتلونکې یو مطلوب او لاسرسي وړ انځور دی، چې د تحقق په پار یې په یو ټولیز چوکاټ کې انسجام، یووالي، انګېزې، لېوالتیا، همت او مدبرانه ارادې ته اړتیا ده. په بل عبارت، لرلید هغه آرماني انځور دی چې د یو روښانه سبا پر لور مسیر ټاکي او د راتلونکو اړتیاوو په تأمین باندې ټینګار لري.

12. **رسالت/ مأموريت**: مأموريت هغه ټوليزه بيانيه ده چې د يو ارګان رامنځته کېدو او عملياتو ترسره کېدو علت بيانوي. په بل عبارت، مأموريت هغه سند دی چې يو ارګان له نورو ورته ارګانونو څخه بېلوي او د شتون فلسفه يې بيانوي.

13. **هدف**: د يو منظم او منطقي فعاليت پايلي ته موخه ويل کېږي. په بل عبارت، موخه هغه وروستۍ پايله ده چې هڅې خپل لوري ته هدايت کوي.

14. **عملياتي موخه**: عملياتي موخه، له هغې موخې څخه عبارت ده چې د پلان شوو کړنو پر مټ ترلاسه کېږي، په عددي توګه د بيان وړ وي او د ترلاسه کولو لپاره يې وخت مشخصېږي.

15. **آرماني موخه**: آرماني موخه د يو ارګان هيلې دي، چې د ترلاسه کولو لپاره يې کوم ګام نه پورته کېږي، په عددي توګه نه بيانېږي او د ترلاسه کولو لپاره يې وخت هم نه شي مشخصېدای.

16. **ستراتيژيکه موخه**: له هغه موخې څخه عبارت ده چې يوه اداره يې د ټاکل شوو ستراتيژيانو د تطبيق په پايله کې د ترلاسه کولو تمه لري.

17. **لندمهاله موخه**: له هغې موخې څخه عبارت ده چې يو سازمان يې خپلو ستراتيژيکو موخو ته د رسېدو لپاره د ترلاسه کولو هڅه کوي.

18. **ارزښتونه**: هغه سيستمونه يا نښاني دي چې په ښه او بد، مطلوب او نامطلوب، مناسب او نامناسب او سم او ناسم او دېته ورته مفاهيمو پورې اړوندو انتزاعي اخلاقي نظرياتو کې سازماندهي کېږي. په بل عبارت، د ارګان ارزښتونه هغو ارزښتونو ته ويل کېږي چې د يو ارګان د کارکوونکو د فکر او چلند د هدايت جوګه کېږي او په هغوی باندې اغېزې لري.

19. **ستراتيژيک عوامل**: له ټولو هغو چاپېريالي عواملو او متغيراتو څخه عبارت دی چې په سيده يا ناسيده توګه د يو ارګان پر کړنو باندې اغېزې لري او د فرصتونو، تهديدونو، قوتونو او ضعفونو (SWOT) په نومونو سره يادېږي.

20. **فرصتونه**: هغه مطلوبو او ممکنو حالتونو ته ويل کېږي چې د يو ارګان لپاره د نېکمرغۍ زېري راوړي او معمولاً د يو ارګان د کنټرول له محدودې څخه د باندې وي؛ يعنې د بهرني چاپېريال عنصر ګڼل کېږي. په بل عبارت، فرصت هغه بالقوه ګټې دي چې يا يې بالفعل بڼه نه ده خپله کړې.

21. **تهديدونه**: هغو نامطلوبو او ممکنو حالتونو ته ويل کېږي چې د يو ارګان لپاره د نېکمرغۍ زېرې نه لري، بلکې د بشري سرچينو په فکر کې د مبارزې اور بلوي او معمولاً د يو ارګان د کنټرول له محدودې څخه د باندې وي. په بل عبارت، تهديد هغه بالقوه تاوان دی چې يا يې د بالفعل کېدو عوامل نه دي رامنځته شوي.

22. **قوتونه**: هغو ممتازو وړتياوو ته ويل کېږي چې پر مټ يې يو ارګان د سياليز مزيت پر لور خوځېږي. په بل عبارت، قوت، د يو سيستم په د ننه کې هغه عنصر يا عامل ته ويل کېږي چې د اغېزمنې ګټنې په پايله کې يې د ارګان د موخو ترلاسه کولو او ضعفونو کموالي تمه کېږي.

23. **ضعفونه**: هغو نيمګړتياوو ته ويل کېږي چې له مخې يې يو ارګان د سيالۍ کاروان په خوځښت کې ګړنديتوب له لاسه ورکوي. په بل عبارت، ضعف، د سيستم د کورنيو محدوديتونو يوه ټولګه ده چې د موخو د نه ترلاسه کولو لپاره زمينه برابروي.

24. **چاپېريال**: د هغو عواملو ټولګه ده چې د يو سيستم په موخه باندې ټاکونکې اغېزې لري، مګر سيستم په هغو باندې څومره اغېزې نه لري. په بل عبارت، چاپېريال د جرياناتو، شرايطو، پېښو، متحولينو، عواملو او اقداماتو يوه ټولګه ده چې د يو ارګان پر کړنو او موخو باندې اغېزې شيندي او يا د سازمان اداره کوونکو عواملو تر اغېزو لاندې ځای نيسي.

25. **بهرنی چاپېريال**: د هغو شرايطو او ځواکونو ټولګه ده چې د يو ارګان په ټاکنه باندې اغېز لري، مګر عموماً د سازمان له کنټرول څخه د باندې وي.

26. **عمومي چاپېريال**: د بهرني چاپېريال يوه برخه ده چې جوړوونکي عنصرونه يې د يو ارګان د مديريت په طريقه باندې اغېزې لري.

27. **عملیاتي چاپېریال**: د بهرني چاپېریال یوه برخه ده چې جوړوونکي عنصرونه یې معمولاً د یو سازمان په اداره باندې تطبیقي او چټکي اغېزې لري.

28. **کورنی چاپېریال**: د سازماني چاپېریال هغه برخه ده چې د سازمان په د ننه کې شتون لري او معمولاً د سازمان په اداره باندې چټکي اغېزې لري.

29. **د چاپېریال عدم ډاډ**: هغه حالت دی چې د ارګان د چارو په باره کې پرېکړه کوونکي اړخونه د چاپېریال د عواملو په اړه بسیا معلومات په واک کې نه لري او د سازمان د چاپېریال د تغیراتو په اټکل کې له ستونزو سره لاس او ګرېوان وي.

30. **تهاجمي ستراتیژي (SO)**: هغه ستراتیژي ده چې له مخې یې پوهنتون د خپل قوت له ټکو څخه په ګټنې سره فرصتونه جلبوي.

31. **رقابتي ستراتیژي (ST)**: هغه ستراتیژي ده چې له مخې یې پوهنتون د خپل قوت له ټکو څخه په ګټنې سره د تهدیدونو له منځه وړلو یا کمولو لپاره ګټه پورته کېږي.

32. **محافظه کارانه ستراتیژي (WO)**: هغه ستراتیژي ده چې له مخې یې د پوهنتون پر وړاندې شته فرصتونو څخه په ګټنې سره د کورنیو ضعفونو له منځه وړلو لپاره ګټه پورته کېږي.

33. **دفاعي ستراتیژي (WT)**: هغه ستراتیژي ده چې له مخې یې د تهدیدونو او ضعفونو د کمولو یا له منځه وړلو لپاره ګټه پورته کېږي.

## د ستراتیژیک پلان چوکاټ یا موډل

د لوګر پوهنتون ، کرنې پوهنځي د خپل ستراتیژیک پلان ترتیب په پار د هېواد د قدر وړ پوهنتونونو لپاره د لوړو زده کړو محترم وزارت له لوري وړاندیز شوي چوکاټ یا موډل څخه ګټه پورته کړې ده او په درېیو پړاوونو، اوو ګامونو کې یې خپل ستراتیژیک پلان ترتیب کړی دی. لومړی پړاو د ستراتیژیک پلان تدوین دی، چې په سریزه یا لومړي ځپرکي سره پیلېږي. دا برخه د پوهنځي لنډه پېژندنه، دندو او کړنو، ستراتیژیانو په بیان باندې شامله ده. د همدې پړاو دوهمه برخه د لرلید، رسالت، ارزښتونو او ستراتیژیکو موخو ټاکلو ته ځانګړې شوې ده. د تدوین پړاو اړوند درېیم ځپرکی دوې برخې لري؛ لومړۍ برخه یې د چاپېریال اړوندو عواملو (ځواکمنتیاوو، کمزورتیاوو، فرصتونو او تهدیدونو) تحلیل ته ځانګړې شوې ده او دوهمه برخه یې د لوګر پوهنتون کرنې پوهنځي ستراتیژیک لومړیتوبونه انعکاسوي. بالآخره د دې برخې په وروستي ځپرکي کې د ممکنه ستراتیژیانو ټاکنه، د ستراتیژیانو لومړیتوب ټاکنه او په پای کې هم ستراتیژیک لومړیتوب ټاکنه ځای لري.

دوهم پړاو، د ستراتیژۍ پلي کول دي، چې پنځم ګام یا ځپرکي تا شاملېږي. دا ځپرکی د لنډمهاله موخو ټاکنه او د ځانګې ستراتیژیکو موخو ته د رسېدو په برخه کې د اړتیا وړ کلونو لپاره عملیاتي پلانونه رانغاړي. شپږم ځپرکی په ځینو سمونو، لکه د ځانګې جوړښت، پوهنتون سرچینو او په پای کې هم د پلانونو تطبیق ته ځانګړی شوی دی.

درېیم پړاو ارزونه ده، چې په اووم ځپرکي کې باید د ځانګې د ستراتیژیک پلان ارزونې لپاره یو میکانېزم ترتیب شي.

د کرنې پوهنځي د ستراتیژیک پلان چوکاټ یا موډل په (۱) شکل کې کتلای شی.




(۱) شکل: د کرني پوهنځي د ستراتیژیک پلان چوکاټ

## سریزه (کلیات)

د تغیراتو رامنځته کېدل د نړۍ یو څرګند حقیقت دی. دا حقیقت د ځینو لپاره د نیکمرغۍ زېري لري او ځینې بیا د بدمرغیو او ناخوالو کندي ته ور غورځوي. دا تغیرات ډېر پېچلي، ژور او ګړندي دي؛ داسې چې هېچا ته هم اجازه نه ورکوي چې په جامع توګه یې مطالعه او پر وړاندې یې قاطع غبرګون وښیي. شوني ده

د دې تغيراتو يوه کمه برخه له طبيعت څخه سرچينه واخلي، مګر لويه برخه يې په بشري کړنو پورې تړاو لري. د نړۍ بريالي وګړي، اداري او ملتونه کوښښ کوي په فعالانه توګه چاپيريال په خپله ګټه تغير او پکي شته ګټې د ځان کړي. کمزوری هغوی بيا يا په دې تغيراتو کې د رامنځته شوو فرصتونو موندنې په لټه کې وي او يا لاس تر زنې ناست او په نهيلۍ سره د وضعيت ليدنه کوي او ځان ته ډاډ ورکوي چې ګويا د دوی په قسمت کې همدا ليکل شوي دي. د اوږدمهاله ژوند او بريا لپاره اړتيا ليدل کېږي د دې تغيراتو د مديريت لپاره لاسونه بډ وهل شي او يوازې د تغيراتو په ننداره وخت تېر نه شي. د لوګر پوهنتون په چوکاټ کې کرنې پوهنځي هم ټينګ هوډ لري چې د خپلو امکاناتو او سرچينو پر مټ ياد تغيرات مديريت کړي، ګټې پکې ولټوي او له منفي اغېزو او زيانونو يې ځان خوندي وساتي. په همدې پار، دا دی د همدې موخې تحقق په پار يې يو جامع، هراړخيز او په واقعيتونو ولاړ ستراتيژيک پلان ترتيب کړی دی او باور لري چې د تطبيق په پايله کې به يې خپلې ټاکل شوې موخې ترلاسه کوي. ان شا الله.

د ياد ستراتيژيک پلان د ترتيب څرنګوالی اړوند بايد ياده کړو چې، د ترتيب په پار تر هر څه وړاندې په دقيقه او منظمه توګه بهرنی او کورني چاپېريالونه، د دخيلو اړخونو په معنی لرونکي ګډون سره مطالعه کړای شول، ترڅو پکې بالفعل او بالقوه ستراتيژيک عنصرونه (قوتونه، ضعفونه، فرصتونه او تهديدونه) تعريف او اټکل کړل شي. ورپسې د لوګر پوهنتون ستراتيژيکو موخو او لومړيتوبونو ته په پام سره، د معقولو او منطقي ستراتيژيانو په ټاکلو او لومړيتوب بندۍ سره د کرنې پوهنځي نوی ستراتيژيک لوری وټاکل شو او تر څنګ يې د لرليد، رسالت، ستراتيژيکو موخو او ارزښتونو ټاکلو له لارې په دې لوري د بريالي خوځښت نقشه انځور کړای شوه. دا چې د ټاکل شوو موخو تحقق او مطلوبه وضعيت ته رسېدنه، د فعاليتونو ترسراوي غوښتنه کوي، نو په همدې پار، د اګرانومی او کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګو پورې تړلو اقداماتو باندې شامل او د بشپړې همغږۍ پر اصل ولاړ عملياتي پلانونه ترتيب او په ياد ستراتيژيک پلان کې ځای پر ځای شوي دي. هېره د نه وي چې د دې ستراتيژيک پلان د تطبيق او کنټرول په پار به د وخت د غوښتنو مطابق تطبيقي پلانونه او د څارنې ميکانېزمونه او پلان ترتيب او له مخې به يې ياده ستراتيژيکه پروسه د بشپړتيا په لور وړل کېږي.

دا ستراتيژيک پلان د پوهنتونونو د ستراتيژيک پلان ترتيب په پار جوړ شوي لارښود مطابق په درېيو پړاوونو او اوو ګامونو باندې شامل دی. لومړی پړاو له سريزې څخه پيل او د ستراتيژيک پلان اړتيا او اهميت، د کرنې پوهنځي لنډه پېژندنه، دندې، کړنې، ستراتيژۍ او د مخکينيو ستراتيژيانو د بريا اندازې ښودنه، د کرنې پوهنځي لرليد، رسالت، ستراتيژيکې موخې او ارزښتونه، د چاپېريال د عواملو (SWOT) تحليل او د کرنې پوهنځي ستراتيژيکو لومړيتوبونو ته يې ځای ورکړی دی.

دوهم پړاو د لنډمهاله موخو ټاکنه، عملياتي پلانونه، د پوهنځي سرچينې او تطبيقي برخه رانغاړي او بالآخره په وروستي پړاو کې د واقعي او متوقعه پايلو تر منځ د واټن اندازه کولو لپاره د ياد ستراتيژيک پلان د کنټرول اړوند، کنټرول ميکانېزم باندې شامل دی. دا وروستۍ دوې برخې به يې د دې ستراتيژيک پلان د وروستي تائيد ترلاسه کولو څخه وروسته او د تائيد شوي ستراتيژيک پلان د پلي کولو سره جوخت پيل او راپور به يې وخت پر وخت له اړوندو برخو سره شريکېږي. ان شا الله.

**د کرنې پوهنځي لنډه پېژندنه**

د لوګر پوهنتون کرنې پوهنځي په ۱۳۹۸ کال کې د اګرانومي او کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګو په لرلو سره تأسيس شوه او خپلې اړوند تدريسي او اداري چارې يې د شپږ تنو استادانو په لرلو سره راپيل کړې. د تأسيس له نيټې څخه تر دې دمه يې د ګڼو اقتصادي، سياسي، ټولنيزو او امنيتي ننګونو سربېره د هيواد د ځوان کهول د سمې روزنې لړۍ جاري ساتلې او له يادو دوه څانګو څخه يې سلګونه په نويو مسلکي پوهو او ځانګړو مهارتونو سمبال ځوانان فارغ او ټولنې ته وړاندې کړي دي. کرنې پوهنځي د اړوند تعمير سربېره چې تدريسي او اداري چارې پکې مخته وړې کرنيز فارم، لابراتو او کتابتون هم لري. اوس مهال د هيواد له بيلابيلو ولايتونو څخه (۲۰۹) تنه محصلين او(۱۱ ) تنه استادان لري چې د هغوي له جملې څخه يې (۴) د هيواد په دننه او خارج کې د ماستري په زده کړو بوخت دي. پنځو تنو اداري او خدماتي کارکوونکي لري.

د يادي پوهنځي دواړه څانګو محصلين څلور لومړني سمسترونه د کرني اړوند عمومي زده کړي کوي او وروسته له هغه پاتي څلور سمسترونه په اړوندو اختصاصي څانګو کې لولي.

### د کرني پوهنځي تشکيلاتي چارت

کرني پوهنځي د دوه ډيپاټمنټونو په درلودلو سره خپلې چارې ترسره کوي. د کرني پوهنځي تشکيلاتي چارت په لاندې توګه دی.




(۲) شکل: د کرني پوهنځي تشکيلاتي چارت

### د کرني پوهنځي د محصلينو اړوند معلومات

کرني پوهنځي د خپل تحصيلي مزل له پيل څخه تر نن پورې په خپله لمنه کې ګڼ شمېر د هېواد ځوانانو ته د لوړو زده کړو ترلاسه کولو په پار ځای ورکړی دی او ورکوي يې او له دې منځه يې ګڼ شمېر په بشپړه مسلکی پوهه او اخلاقو سمبال او ديني او ملي ارزښتونو ته ژمن هغه روزلي او ټولني ته د خدمت کولو په پار وړاندې کړي دي. لاندې جدولونه له (۱۴۰۲ – ۱۴۰۴) کلونو پورې د کرني پوهنځي د فارغينو او برحاله محصلينو اړوند اعداد او ارقام ښيي.

(۱) جدول: له (۱۴۰۲ – ۱۴۰۴) کلونو پورې د کرني پوهنځي د فارغ شوو محصلينو اړوند ارقام

| ګڼه | کال | څانګه | | ټولګه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| | | کرنيز اقتصاد | اګرانومي | | |
| ۱ | ۱۴۰۲ | ۴۲ | ۲۶ | ۶۸ | |
| ۲ | ۱۴۰۳ | ۲۴ | ۲۰ | ۴۴ | |
| ۳ | ۱۴۰۴ | ۲۶ | ۱۶ | ۴۲ | |
| کلي ټولګه | | | | ۱۵۴ | |

(۲) جدول: د کرني پوهنځي د برحاله محصلينو اړوند ارقام

| ګڼه | څانګه | لومړی ټولګی | دوهم ټولګی | دريم ټولګی | څلورم ټولګی | ټولګه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کرنيز اقتصاد او پراختيا | ۳۲ | ۴۲ | ۳۲ | ۲۶ | ۱۳۲ | |
| ۲ | اګرانومي | ۱۳ | ۲۵ | ۲۳ | ۱۶ | ۷۷ | |
| **کلی ټولګه** | | | | ۲۰۹ | | | |

**د کرنې پوهنځي اوسنۍ کړنې**

د لوګر پوهنتون د نورو پوهنځیو په توګه، کرنې پوهنځي ویاړ لري چې تر دې دمه یې د هېواد د بچیانو په اسلامي او مسلکۍ روزنه کې په بشپړه رښتینولۍ سره حساب وړ ګامونه پورته کړي دي او له نېکه مرغه دا لړۍ روانه ده. کولای شو په کرنې پوهنځي کې دامګړۍ رواني چارې په لاندې توګه یادې کړو:

١) تر ټولو ښه کیفیت سره د تدریس چارې،
٢) د حقایقو موندلو او علمي تشو ډکولو په پار څېړنیزې چارې،
٣) د کیفیت لوړوالي په موخه نه ستړې کېدونکې کوښښونه،
۴) د تجربو ترلاسه کولو په پار د علمي رتبو ترلاسه کولو کوښښونه،
۵) د تحصیلي سویې لوړوالي په پار د ماسترۍ د برنامو تعقیب،
۶) د نظم او ډسپلین استحکام په پار منظمې هڅې،
٧) د تحصیلي نصاب او کرېکولم د بشپړ تطبیق هلې ځلې،
٨) ارزونې او نورې اړینې چارې.

**د لرلید بیانیه**

د لوګر د لوړو زده‌کړو مؤسسې کرنې پوهنځي هوډلري چې د لیسانس په کچه علمي برنامې د تدریس، باکیفیته څېړنو او د ټولنې د اړتیاوو او غوښتنو پر بنسټ د معیاري خدمات په وړاندې کولو سره د یو مخکښ پوهنځي په توګه وپېژندل شي.

**د مأموریت بیانیه**

د لوګر د لوړو زده‌کړو مؤسسې کرنې پوهنځي ژمن دی چې د خپل متخصص او مسلکي علمي کادر په مټ، د شته امکاناتو او فرصتونو په اغېزمنه توګه کار واخلي، ترڅو په کرنېزو او حیواني تولیداتو، د خوړو خوندیتوب، او د دوامدار اقتصادي پراختیا په برخو کې علمي او مسلکي کادرونه وروزي او د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې یې ټولنې ته وړاندې کړي.

**بنسټیز ارزښتونه**

د کرنې پوهنځي بنسټیز ارزښتونه عبارت دي له:

1. اسلامي- اداري اصولو ته درناوی.
2. د مسلکي اخلاقو رعایت.
3. شایسته سالاري.
4. اداري عدالت.
5. بشري کرامت ته درناوی.
6. رښتینولي او وروروِلي.
7. اسلامي- ملي کلتور ته درناوی.
8. د مسئولیت احساس.
9. له فساد سره رښتینې مبارزه.
10. ابتکارات او نوښتونه.
11. له تعصبانو، تبعیض او خرافاتو سره مبارزه.
12. ګډ کار کول.

## د کرنې پوهنځي ستراتيژيکي موخې

د لوګر پوهنتون، کرنې پوهنځي ټول منسوبين ژمن دي چې له خپلو وړتياوو او ظرفيتونو څخه په بشپړې ګټنې سره د لاندې ستراتيژيکو موخو په تحقق کې کار واخلي او په دې سره د هېواد د بنې راتلونکې او پرمختيا په راوستلو او لوړو زده کړو وزارت او لوګر پوهنتون  د ستراتيژيکو موخو په تحقق کې فعاله ونډې اخيستنې له لارې خپل ديني، ملي او وجداني مسئوليتونه ادا کړي.

1. د علمي څېړنو او نوښت د پرمختګ لپاره اړين ګامونه پورته کول.
2. د مديريت او رهبري په اغېزمنتيا کې د زياتوالي راوستل او د فساد په وړاندې کلک اقدامات کول.
3. د تحصيلي نصاب بياکتنه او ارزونه، او د پرمختګ لپاره يې اړين ګامونه پورته کول.
4. د کيفيت ساتلو او لوړولو لپاره عملي او اغېزمن اقدامات ترسره کول.
5. اغېزمنې برښنايي-تحصيلي خدمات وړاندې کول.
6. د تحصيلي خدماتو وړاندې کولو لپاره له ټولو موجوده سرچينو څخه اعظمي(تحقيقاتی فارم» لابراتوار...) ګټه پورته کول.
7. د بشري سرچينو د استعدادونو د پرمختګ لپاره اړينې هڅې ترسره کول.
8. د اړيکو يو پياوړی او اغېزمن سيستم پلی کول.
9. د محصلينو تيوريکی او عملی بنه د وړتياوو لوړولو لپاره اغېزمن تحصيلي خدمات وړاندې کول او د عادلانه لوړو زده کړو زمينه برابرول.

## د لوګر پوهنتون  ستراتيژيکي موخو لاندې د کرنې پوهنځي برنامې

د لوګر پوهنتون ټول منسوبين ژمن دي چې له خپلو وړتياوو او ظرفيتونو څخه په بشپړې ګټنې سره د لاندې ستراتيژيکو موخو په تحقق کې کار واخلي او په دې سره د هېواد د بنې راتلونکې او پرمختيا په راوستلو او لوړو زده کړو وزارت د ستراتيژيکو موخو په تحقق کې فعاله ونډې اخيستنې له لارې خپل ديني، ملي او وجداني مسئوليتونه ادا کړي.

۱) د علمي څېړنو پرمختيا او نوښت وده.

- د علمي څېړنو او نوښت د پرمختګ لپاره اړين ګامونه پورته کول.
- د څېړنيزو ظرفيت لوړول او د علمي تشو ډکول.
- د نوښت پر بنسټ ولاړ تدريسي بهير پلي کول.

۲) د اداري او رهبری د اغېزمنتيا زياتول او په سيستماتيکه توګه د فساد بشپړه محوه.

- د مديريت او رهبري په اغېزمنتيا کې د زياتوالي راوستل او د فساد په وړاندې کلک اقدامات کول.
- د ځواکمنې رهبری په مرسته د شفافيت او مؤثريت لپاره د سرچينو ښه کارونه

۳) د نصاب بياکتنه او د پرمختيا لپاره يې د مقدماتو برابرول.

- د تحصيلي نصاب تطبيق، بياکتنه او ارزونه، او د پرمختګ لپاره اړين ګامونه پورته کول.
- د ټولنی او محصلينو مسلکي وړتياوو ته د غوښتنو مطابق د نصاب  وده ورکول.

4) د کيفيت د کچې اوچتول او ساتل.

- د کيفيت ساتلو او لوړولو لپاره عملي او اغېزمن اقدامات ترسره کول.
- د کيفيت د معيارونو هر اړخيز تطبيق.

۵) د برښنايي- تحصيلي چوپړتياوو د اغېزمنتيا لوړول.

- اغېزمنې برښنايي-تحصيلي خدمات وړاندې کول.
- د برښنايي زده کړو پراختيا او پراخه کول.

۶) د تحصيلي چوپړتياوو وړاندې کولو لپاره د ټولو آسانتياوو او امکاناتو برابرول.

- د تحصيلي خدماتو وړاندې کولو لپاره له ټولو موجوده سرچينو څخه اعظمي(تحقيقاتی فارم» لابراتوار...) ګټه پورته کول.
- د تحصيلی امکاناتو او آسانتياوو برابرول.

۷) د بشري سرچينو د استعدادونو پرمختيا.

- د بشري سرچينو د استعدادونو د پرمختګ لپاره اړيني هڅي ترسره کول.

۸) د اړيکو د يو اغېزمن سيستم پلي کول او پياوړتيا.

- د اړيکو يو پياوړی او اغېزمن سيستم پلی کول.

۹) د استعدادونو د ودې او پرمختيا په پار د معياري خدماتو وړاندې کول او لوړو زده کړو ته د عادلانه لاسرسي لپاره زمينه برابرول.

- د محصلينو تيوريکی او عملی بنه د وړتياوو لوړولو لپاره اغېزمن تحصيلي خدمات وړاندې کول او د عادلانه لوړو زده کړو زمينه برابرول.

## د چاپېريال بررسي

د علمي تيوريګانو د بحثونو له مخې، ستراتيژي سازمان او چاپېريال ته د دوو جدا عنصرونو په سترګه ګوري او د چاپېريال دقيقه، ژوره او پر وخت مطالعه او پر وړاندې يې د کړنلو او عاقلانه ګامونو اوچتول د سازمانونو او ادارو د بريا شونتيا زياتوي. د همدې کتنو په پام کې نيولو سره کرنې پوهنځي هم غواړي چې له خپل اړوند چاپېريال سره د اغېزمن تعامل په پار د چاپېريال ټول هغه ستراتيژيک عوامل (فرصتونه، تهديدونه، قوتونه او ضعفونه) مطالعه کړي، کوم چې د ياد پوهنځي د ستراتيژيکو موخو د تحقق په لاره باندې روښنايي/ سيوري غوړوي. د دې عواملو په مطالعه کې کرنې پوهنځي يوازې نه وو پاتې شوې، بلکې د عمومي چاپېريال د مطالعې د مينوالو، ستراتيژيکو مسائلو متخصصينو، لوګر پوهنتون او په ځانګړې توګه کرنې پوهنځي د علمي کادر غړو، خصوصي د لوړو زده کړو موسساتو منسوبينو، فارغو او برحاله محصلينو او د دولتي او خصوصي برخې کارمندانو کافي مرسته ورسره وه. کرنې پوهنځي په دې برخه کې د هغوی د مرستو او ګډون قدرداني کوي.

## د کورني چاپېريال د عواملو تحليل

کولای شو په کورني چاپېريال کې له لاندې عواملو (قوتونو او ضعفونو) څخه، د لوګر پوهنتون کرنې پوهنځي د فعاليتونو اغېزمنوونکو عواملو په توګه يادونه وکړو:

## د قوتونو برخه:

1. د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره وړتيا.
2. په خلاقانه علمي څېړنو کې پوهه.
3. د ابتکار د ودې لپاره بشري ظرفيت شتون.
4. له اداری فساد سره د مبارزې معتهد کاري ټيم شتون.
5. د معياري تحصلي نصاف په تطبيق او تدريس کې کافي تجربه.
6. کيفيت لوړوني په برخي کې د پوهنځي روښانتيا.
7. د معلوماتي ټکنالوژۍ چوپړتياوو ته لاسرسی.
8. اداري او تدريسي تعمير لرل.
9. د يو نسبتا مناسب څېړنيز فارم او کتابتون شتون.
10. برښنا ته کافی لاسرسی.
11. د مسلکي پرمختيا مرکز چوپړتياوو ته لاسرسی.
12. ژمن، متخصص او تجربه لرونکي علمي کادر غړي لرل.
13. په اسلامي او ملي ارزښتونه ژمن او تجربه لرونکي اداري کارکوونکي لرل.

14. د هېواد د نورو پوهنتونو د کرنې له پوهنځیو سره د تفاهمنامې د ایجاد ظرفیت.
15. د کرنې په سکتور کې دوه مهم فارغوروکونکی ځانګو شتون.
16. په ټولنه کې د ځانګې د فارغینو غوره ځلېدل.

**د ضعفونو برخه:**

1. د نړلیوالو او معیاری څېړنې ترسره کولو د آسانتیاوو نشتون.
2. په تدریسي بهیر کې د څېړنو له پایلو څخه نه ګټنه.
3. په پلانونو کې په څېړنه باندې د ټینګار کموالی.
4. په چارو کې د نوښت نه پالل.
5. د ابتکار او نوښت ودې د پروګرامونو نشتون.
6. په بشپړه توګه د شته تحصیلي نصاب نه پلي کېدل.
7. د کیفیت په برخه کې د ترسره کړو اقداماتو ضعیفوالی.
8. د حضوري زده کړو د چارو د فشار زیاتوالی.
9. د برښنایي زده کړو د یو اغېزمن سیستم نشتون.
10. کمپیوټر لیب ته محدود لاسرسي.
11. د استادانو د هوساینې لپاره لازم او کافي امکاناتو نشتوالی.
12. د ظرفیت لوړونې اړوند ستراتیژیکو اقداماتو نشتون.
13. له ذیعلاقه اړخونو سره کمرنګه اړیکې.
14. د اړیکو مؤثر مدیریت او فعال ټیم نشتون.
15. د تحصیلی برنامو د شمېر کموالی.
16. د محصلینو د جذب لپاره کم ظرفیت ورکړه.

**د کورنیو عواملو د تحلیل مټریکس (IFEM)**

کورنی چاپېریال، د چاپېریال هغه برخه ده چې تر لویه بریده د سازمانونو تر ولکې او کنټرول لاندې وي. سازمانونه اړ دي چې د چاپېریال په دې برخه کې خپل د قوت او ضعف ټکي ومومي، ترڅو پوه شي چې له یادو قوتونو څخه په ګټنې سره د بهرني چاپېریال د فرصتونو په جذب او تهدیدونو رفع کولو په برخه کې څه کولای شي او تر څنګ یې شته ضعفونه تر کومه بریده د سازمانونو د موخو د تحقق په لاره کې اغزي بښیندي.

د کورنیو عواملو د مټریکس د ترتیب لپاره، په ترتیب سره لاندې پړاوونه طی شوي دي:

1. لومړی ستون، شاخصونو ته ځانګړی شوی دی. په دې ستون کې د ټولو هغو شاخصونو یادونه شوې ده چې پر بنسټ یې له چاپېریال سره د اغېزمن تعامل په پار د پوهنځي د قوت او ضعف ټکي مشخصېږي. په اصل کې دا شاخصونه د معلوماتو راټولولو بنسټونه ګڼل کېږي او له متشتتو معلوماتو راټولولو څخه مو منع کوي.
2. دوهم ستون، ردیف ته ځانګړی شوی دی. په دې ستون کې د قوتونو او ضعفونو کوډبندي شوې ده او مونږ ته د کورنې چاپېریال د ستراتیژیکو عواملو (قوتونو او ضعفونو) عددي ترتیب ښیي.
3. دریم ستون، د ستراتیژیکو عواملو کیفي یادونې ته ځانګړی شوی دی. دلته له ټولو هغو عواملو څخه یادونه شوې ده چې د ټاکل شوو شاخصونو پر بنسټ د پوهنځي د بریا/ ماتې په برخلیک ټاکنه کې رول لوبوي.
4. څلورم ستون، د قوتونو او ضعفونو د وزن یا اهمیت ټاکلو او محاسبې ته ځانګړی شوی دی. د وزن یا اهمیت د ضریب ټاکلو لپاره د متخصصینو له نظریاتو څخه ګټه پورته شوې ده. دا ضریب د هر عامل د

اهمیت په پام کې نیولو سره له (۰ – ۱) پورې قېمتونه اخلي؛ په دې ترتیب سره چې (۰) بې اهمیته او (۱) ډېر اهمیت لرونکی عامل ښیي. د دې ستون ټولګه باید له (1) سره مساوي شی.

5. پنځم ستون، د قوتونو او ضعفونو د رتبې یا امتیاز ټاکلو لپاره ځانګړی شوی دی. د قوت ټکي (۴) او (۳) امتیازونه اخیستلای شي او د ضعف ټکي (۲) او (۱) امتیازونه اخیستلای شي؛ په دې ترتیب سره چې (۴) امتیاز ډېر قوي، (۳) امتیاز قوي، (۲) امتیاز ضعیف او (۱) امتیاز ډېر ضعیف عوامل ښیي.
6. شپږم ستون، د ستراتیژیکو عواملو د موزون امتیاز ټاکلو لپاره ځانګړی شوی دی. د هر عامل موزون امتیاز، د هغه عامل د اهمیت ضریب او عامل د امتیاز د ضرب حاصل دی. دا برخه د ځانګې لپاره د هر عامل امتیاز ښیي. د دې ستون د امتیازاتو ټولګه د قوت او ضعف پر بنسټ د پوهنځي نهایي امتیاز ښودونکې ده. که چېرې په دې مټرېکس کې نهایي نمره تر (۲،۵) عدد کمه وي، نو د ضعفونو تله تر قوتونو درنده وي، مګر که چېرې نهایي نمره تر (۲،۵) عدد لوړه وي، نو د قوتونو تله تر ضعفونو درنده وي. البته باید یاده کړو چې د یادو نمرو حداقل (۱)، حداکثر (۴) او اوسط (۲،۵) دی.

د کورنیو عواملو (قوتونو او ضعفونو) د تحلیل مټرېکس له جدولونو څخه ښکاري چې د یادو عواملو د وزني امتیاز ټولګه تر (۲،۵) لوړه؛ یعنې (2.802) ده. دا عدد مونږ ته ښیي چې په کورني چاپېریال کې د کرنې پوهنځي د قوتونو تله د یاد پوهنځي د ضعفونو تر هغې درنده ده. دا د کرنې پوهنځي لپاره یو ښه زېری دی او څرګندوي چې کرنې پوهنځي کولای شي له دې فرصت څخه په ګټې سره د بهرني چاپېریال له تغیراتو څخه سمه ګټه پورته او یاد حالت د خپلو قوتونو د لا غنی لپاره وکاروي.

### د بهرني چاپېریال د عواملو تحلیل

کولای شو په بهرني چاپېریال کې له لاندې عواملو (فرصتونو او تهدیدونو) څخه، د لوګر پوهنتون کرنې پوهنځي د فعالیتونو اغېزمنوونکو عواملو په توګه یادونه وکړو:

### د فرصتونو برخه:

1. هیواد په کچه د زراعتی څېړنو د ترسراوی لپاره د زیاتو ناحل شوو ستونزو شتون.
2. د کرنې په برخه کې د په پراخه اندازه د ترسره شوی علمي څېړنیز منابع ته لارسی
3. د کرنېز مسائلو په برخه کې له څېړنو څخه ملاتړ.
4. په کرنې برخه کې په ملی سطح د څېړنیزو پروژو شتون.
5. ابتکار او نوښت ته د کرنې سکتور ډیره اړتیا.
6. په کرنې برخه کې د ابتکار او نوښت د پرمختګ د زمینو شتون.
7. د ابتکار او نوښت له چارو د اسلامی امارت کلک ملاتړ شتون.
8. د فساد مخنیوي په برخه کې د کرنې پوهنځي قاطعیت
9. وزارت په سطح د کرنې پوهنځي لپاره معیاری نصاب شتون
10. د وزارت په سطح د کیفیت لوړاوي ته د ملاتړ شتون.
11. د برښنایي زده کړو د لېوالتیا او اړتیا زیاتوالي احساس او ملاتړ
12. کرنې ته د افغانستان د اسلامی امارت ځانګړي پاملرنه.
13. د لوړو زده ځانګړی پاملرنه د هېواد کرنې پوهنځیو ته.
14. په کور د ننه د ماستری او دوکتورا د برنامو شتون

15. په نړیواله او ملی سطحه د کرنې په برخه کې دسیستمونو چټک پرمختګ او نړیواله لېوالتیا
16. په بیلابیلو برخو د تفاهمنامو د لاسلیک اسنتیاوو شتون
17. تخنیکی او مسلکی زده کړو ته او خاصتا کرنې برخه کې د زده کړو لپاره د لېوالتیا زیاتوالی
18. د کرنې پوهنځې د محصلینو لپاره په بسبی توګ دکاري فرصتونه په دولتی او غیر دولتی اداروکی

## د تهدیدونو برخه:

1. د څېړنې په برخه کې د امکاناتو او آسانتیاوو نشتون
2. د معتبرو نړیوالو ژورنالونو زیات مالي لګښت
3. د څیړنیز فارم لپاره د بودیجې نشتوالی
4. په کور د ننه د پرمختللو کرنیز تولیدي کړنو نشتون
5. د عملي چارو ترسره کولو د امکاناتو کموالی
6. د تحصیلي نصاب بدلون د صلاحیت نشتون
7. د ورځې د غوښتنو مطابق تحصیلي نصاب د ځینو مفرادات نه مطابقت
8. په تحصیلي نصاب کې د مضامینو او موضوعاتو تکرار
9. د کیفیت لوړاوي لپاره د ځانګړې بودجې نشتون
10. د شرایطو سره د کیفیت لوړاوي د ځینو معیارونو نه تطابق
11. د کیفیت پالنې په برخه کې آزاد لاس نه درلودل
12. پوهنتونونو ته د ټیټې سویې شاګردانو معرفي کیدل
13. د علمي کادر غړو د مسئولیتونو زیاتوالی
14. د استادانو لپاره د مطالعې د ځانګړو خونو نشتون
15. د فارم ساحی محدودوالی
16. د یو معیاري کتابتون او لابراتوار نشتون
17. د سکالرشیپونو ورکړې په برخه کې د لېوالتیا کموالی
18. د فارم ساحی د پاره د اوبو منابعو او حاصلخیزي خاورې نه شتون .
19. د څیړنیزفارم لپاره د ځانګړي شوی ساحي ناهمواري او د فارم د وسایلو نشتون.
20. د داخلي دولتي او غیر دولتي کرنیزو ادارو له طرفه د تفاهمنامو نه تطبیق.
21. د برنامو په شمېر کې کموالی

## د بهرنیو عواملو د تحلیل مترېکس (EFEM)

بهرنی چاپېریال، د چاپېریال هغه برخه ده چې تر لویه بریده د سازمانونو له ولکې او کنټرول څخه د باندې وي او په استثنایي حالاتو کې د خینو سازمانونو په ولکه او کنټرول کې پاتې کېږي. سازمانونه اړ دي چې د چاپېریال په دې برخه کې د فعالیتونو پر وړاندې بالفعل او بالقوه فرصتونه او تهدیدونه ومومي، ترڅو پوه شي چې د یادو فرصتونو په جذب سره یې د قوت کچه څومره لوړه او د یادو تهدیدونو د حملې په صورت کې یې د ضعفونو تله څومره درندېږي.

د بهرنیو عواملو د مترېکس د ترتیب لپاره هم په ترتیب سره لاندې پړاوونه طی شوي دي:

1. لومړی ستون، شاخصونو ته ځانګړی شوی دی. په دې ستون کې د ټولو هغو شاخصونو یادونه شوې ده چې پر بنسټ یې له چاپېریال سره د اغېزمن تعامل په پار د پوهنځې فرصتونه او تهدیدونه ښيي. په اصل کې دا شاخصونه د معلوماتو راټولولو بنسټونه ګڼل کېږي او له متشتتو معلوماتو راټولولو څخه مو منع کوي.
2. دوهم ستون، ردیف ته ځانګړی شوی دی. په دې ستون کې د فرصتونو او تهدیدونو کوډبندي شوې ده او مونږ ته د بهرنې چاپېریال د ستراتیژیکو عواملو (فرصتونو او تهدیدونو) عددي ترتیب ښيي.

3. دریم ستون، د ستراتیژیکو عواملو کیفي یادوني ته ځانګړی شوی دی. دلته له ټولو هغو عواملو څخه یادونه شوې ده چې د ټاکل شوو شاخصونو پر بنسټ د پوهنځي د بریا/ ماتې په برخلیک ټاکنه کې رول لوبوي.
4. څلورم ستون، د فرصتونو او تهدیدونو د وزن یا اهمیت ټاکلو او محاسبې ته ځانګړی شوی دی. د وزن یا اهمیت د ضریب ټاکلو لپاره د متخصصینو له نظریاتو څخه ګټه پورته شوې ده. دا ضریب د هر عامل د اهمیت په پام کې نیولو سره له (۰ — ۱) پورې قېمتونه اخلي؛ په دې ترتیب سره چې (۰) بې اهمیته او (۱) ډېر اهمیت لرونکی عامل ښيي. د دې ستون ټولګه باید له (۱) سره مساوي شی.
5. پنځم ستون، د فرصتونو او تهدیدونو د رتبې یا امتیاز ټاکلو لپاره ځانګړی شوی دی. فرصتونه (۴) او (۳) امتیازونه اخیستلای شي او ضعفونه (۲) او (۱) امتیازونه اخیستلای شي؛ په دې ترتیب سره چې (۴) امتیاز استثنایي فرصت، (۳) عادي فرصت، (۲) عادي تهدید او (۱) امتیاز بحراني تهدید ښيي.
6. شپږم ستون، د ستراتیژیکو عواملو د موزون امتیاز ټاکلو لپاره ځانګړی شوی دی. د هر عامل موزون امتیاز، د هغه عامل د اهمیت ضریب او عامل د امتیاز د ضرب حاصل دی. دا برخه د څانګې لپاره د هر عامل امتیاز ښيي. د دې ستون د امتیازاتو ټولګه د فرصت او تهدید پر بنسټ د پوهنځي نهایي امتیاز ښودونکې ده. که چېرې په دې مټرېکس کې نهایي نمره تر (۲،۵) عدد کمه وي، نو د تهدیدونو تله تر فرصتونو درنده وي، مګر که چېرې نهایي نمره تر (۲،۵) عدد لوړه وي، نو د فرصتونو تله تر تهدیدونو درنده وي. البته باید یاده کړو چې د یادو نمرو حداقل (۱)، حداکثر (۴) او اوسط (۲،۵) دی.

د بهرنیو عواملو (فرصتونو او تهدیدونو) د تحلیل مټرېکس له جدولونو څخه ښکاري چې د یادو عواملو د وزني امتیاز ټولګه تر (۲،۵) په ډېره کمه اندازه لوړه؛ یعنې (۲،۵۷۸) ده. دا عدد مونږ ته ښيي چې په بهرني چاپېریال کې د کرنې پوهنځي د فرصتونو تله د یاد پوهنځي د تهدیدونو تر هغې لږ څه درنده ده. دا د کرنې پوهنځي لپاره یو زېری کېدای شي، مګر په عین حال کې دا چې د فرصتونو او تهدیدونو تلې نږدې سره برابرې دي، یو خطر هم اوسېدای شي. د فرصتونو او تهدیدونو له لړلیکونو ښکاري چې له یو اړخه د فرصتونو په پرتله د تهدیدونو شمېر زیات دی او له بله اړخه د استثنایي فرصتونو په پرتله بحراني تهدیدونه زیات او پاملرنې وړ دي. بالآخره ویلای شو چې په دې حالت کې باید د فعالیتونو ترسره کولو پر مهال له ډېر دقت او احتیاط څخه کار واخیستل شي او کوښښ وشي چې دا د ثبات حالت د تهاجم یا یرغل حالت ته مایل کړل شي، ترڅو په راتلونکي کې د فعالانه ودې لپاره زمینه برابره او د بریا په لور لا پیاوړي او مستحکم ګامونه پورته کړل شی. په هر صورت، په ټوله کې د کرنې پوهنځي لپاره د کورنیو او بهرنیو عواملو (قوتونو، ضعفونو، فرصتونو او تهدیدونو) تحلیل او تجزیه د ثبات او یرغل امر کوي، چې دا بیا څه نا څه ډاډمنوونکی خبر کېدای شي

## د (کورني + بهرني) چاپېریال د عواملو پرتله (د ستراتیژیانو ټاکل او تطبیق)

په دې پړاو کې د کورني چاپېریال د ستراتیژیکو عواملو (قوتونو او ضعفونو) او بهرني چاپېریال د ستراتیژیکو عواملو (فرصتونو او تهدیدونو) تر منځ موازنه براقرارېږي، ترڅو له مخې یې هغه ستراتیژیانو وټاکل شي چې د پوهنځي د ستراتیژیکو موخو په تحقق کې مرسته کوي. کولای شو د دې کار ترسره کولو لپاره له (IE) او (SWOT) مېتودونو څخه پورته کړو.

## IE مېتود

په یو وخت کې د کورني او بهرني دواړو چاپېریالونو د عواملو (قوتونو، ضعفونو، فرصتونو او تهدیدونو) د تجزیې او تحلیل لپاره، د کورني او بهرني مټرېکس په نوم وسیلې څخه ګټه پورته کېږي. له دې مټرېکس څخه د پوهنځي د اوسني موقعیت معلومولو او ټاکنې لپاره ګټه پورته کېږي. د دې مټرېکس د تشکیل لپاره باید د کورنیو او بهرنیو عواملو د ارزونې له مټرېکسونو څخه ترلاسه شوې نمرې، د دې مټرېکس په افقي او عمودي اړخونو کې لیکل کېږي، ترڅو د مټرېکس په خونو کې د پوهنځي موقعیت معلوم

شي او له دې لارې د پوهنځي لپاره یوه غوره ستراتیژي ټاکل کېږي. په لاندې توګه د کرنې پوهنځي لپاره د کورنیو او بهرنیو عواملو نهه خانه یي مټرېکس ترتیب شوی دی.

(۲) شکل: د کورنیو او بهرنیو عواملو نهه خوني لرونکی مټرېکس




د پورتني شکل څخه ښکاري چې کرنې پوهنځی د (۹) خونې لرونکي مټرکس په (V) خانه کې قرار لري او د ثبات ستراتیژیانو پلي کولو سپارښتنه کوي. له بله اړخه، په سواټ تحلیل کې یوازې (پرغلیزه، سیالیزه، محافظتي او تنوع) څلور ډوله ستراتیژۍ شتون لري، نو د دې لپاره چې پوهنځي وکولای شي د پورته یادو شوو ستراتیژیو په ټاکنه بریالی شي، په کار ده پورتنی نهه خوني لرونکی مټرکس په څلورو مساوي برخو باندې ووېشل شي. په دې سره معلومېږي چې کرنې پوهنځي کولای شي د ودې او پرمختیا ستراتیژۍ وټاکي او پلې کړي.

## SWOT مېتود

SWOT تجزیه او تحلیل د هغو عواملو منظمه پېژندنه ده چې ستراتیژي باید له هغو سره تر ټولو غوره تطابق ولري. د یاد مېتود منطق دا دی چې اغېزمنه ستراتیژي باید د پوهنځي قوتونه او فرصتونه حداکثر او ضعفونه او تهدیدونه حداقل کړي. سواټ د ستراتیژیکي پلان جوړونې په اډانه کې د ستراتیژیو د تدوین لپاره تر ټولو مشهور موډل دی. کولای شو له سواټ مېتود څخه په ګټنې سره له کلي او جزوي کچو د کورنیو او بهرنیو عواملو تر منځ تناسب او توازن رامنځته کړو.

(۵) جدول: د کورنیو عواملو د لومړیتوب ټاکنې مټرېکس

| د اهمیت درجه | شدت | پر کرنو باندې اغېز یا د پوهنځي سیالیزه ورتیا | | |
|---|---|---|---|---|
| | | زیات | متوسط | کم |
| | زیات | لوړ لومړیتوب | لوړ لومړیتوب | متوسط لومړیتوب |
| | متوسط | لوړ لومړیتوب | متوسط لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب |
| | کم | متوسط لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب |

(۶) جدول: د بهرنیو عواملو د لومړیتوب ټاکنې مټرېکس

| | | |
|---|---|---|
| [illegible] | [illegible] | په پوهنځي باندې احتمالي اغېزې |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | زیات | متوسط | کم |
| | زیات | لوړ لومړیتوب | لوړ لومړیتوب | متوسط لومړیتوب |
| | متوسط | لوړ لومړیتوب | متوسط لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب |
| | کم | متوسط لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب | ټیټ لومړیتوب |

(۷) جدول: سواټ (TOWS /SWOT) متریکس

**یرغلیزې ستراتیژیانې (SO)**: پوهنځي کوښښ کوي چې د دې ستراتیژیانو په چوکاټ کې له خپلو داخلي قوتونو څخه په ګټنې سره بهرني فرصتونو جذب کړي.

**محافظه کارانه ستراتیژیانې (WO)**: پوهنځي کوښښ کوي چې د دې ستراتیژیانو په چوکاټ کې د بهرني چاپېریال د فرصتونو د جذب له لارې خپل ضعفونه صفر او یا تر ټولو کمې اندازې ته ورسوي.

**سیالیزې ستراتیژیانې (ST)**: پوهنځي کوښښ کوي چې د دې ستراتیژیانو په چوکاټ کې له خپلو داخلي قوتونو څخه په ګټنې سره بهرني تهدیدونه دفع کړي.

**دفاعي ستراتیژیانې (WT)**: **هغه** پوهنځي چې دا ستراتیژیانې پلې کوي کوښښ کوي له ځان څخه دفاع وکړي. دلته موخه د کورنیو ضعفونو او بهرنیو تهدیدونو کمول دي.

(۳) شکل: د کرنې پوهنځي ستراتیژیک موقعیت




له پورتني شکل څخه په وضاحت سره ښکاري چې د لوګر پوهنتون کرنې پوهنځي په یرغلیز حالت کې قرار لري. په دې حالت کې د کرنې پوهنځي لپاره لازمه ده چې له خپلو داخلي قوتونو څخه په بشپړې ګټنې سره د بهرني چاپېریال فرصتونه جذب کړي او په دې سره د خپلو قوتونو د لا غنی او ضعفونو د له منځه وړلو لپاره لاس په کار شي. په اصل کې هره اداره غواړي په دې حالت کې قرار ولري؛ ځکه دا په محیط کې تر ټولو غوره موقعیت دی، مګر په دې موقعیت کې ځای نیول د پوهنځیو او په ټوله کې ادارو په ولکه کې نه دي، بلکې تر ډېره د بیرونیو عواملو په اختیار کې دی

**د پوهنځي د ستراتیژیانو ټاکنه**

د کورنیو او بهرنیو ستراتیژیکو عواملو د ارزوني متریکسونو د نهایي نمرو په پام کې نیولو سره لیدل کېږي چې له نېکه مرغه کرني پوهنځي په یرغلیز (تهاجمي) ستراتیژیک موقعیت کې قرار لري. پر دې بنسټ ایجاب کوي خپلو ستراتیژیکو موخو ته د رسېدو لپاره تهاجمي ستراتیژۍ وټاکي. د ستراتیژیکو عنصرونو له موازني څخه په ګټې او د کرني پوهنځي د لویو/ ستراتیژیکو موخو سره په مطابقت کې کرني پوهنځي د خپل راتلونکي پنځه کلن ستراتیژیک مزل لنډولو لپاره لاندې ستراتیژۍ ټاکي:

(۸) جدول: د کرني پوهنځي اصلي موخې او اړوندې ستراتیژۍ

| اصلي موخې او اړوندې ستراتیژۍ | کوډ |
|---|---|
| څېړنو او نوښت | |
| د علمي څېړنو او نوښت د پرمختګ لپاره اړین ګامونه پورته کول. | G1 |
| د څېړنیزو ظرفیت لوړول او د علمي تشو ډکول | S1 |
| د نوښت پر بنسټ ولاړ تدریسي بهیر پلي کول | S2 |
| مدیریت او رهبري | |
| د مدیریت او رهبري په اغېزمنتیا کې د زیاتوالي راوستل او د فساد په وړاندې کلک اقدامات کول. | G2 |
| د څواکمني رهبرۍ په مرسته د شفافیت او مؤثریت لپاره د سرچینو ښه کارونه | S1 |
| تحصیلي نصاب | |
| د تحصیلي نصاب بیاکتنه او ارزونه، او د پرمختګ لپاره اړین ګامونه پورته کول. | G3 |
| د محصلینو مسلکي وړتیاوو ته د غوښتنو مطابق وده ورکول | S1 |
| کیفیت ساتلو | |
| د کیفیت ساتلو او لوړولو لپاره عملي او اغېزمن اقدامات ترسره کول. | G4 |
| د کیفیت د معیارونو هر اړخیز تطبیق | S1 |
| برښنایي زده کړو | |
| اغېزمني برښنایي-تحصیلي خدمات وړاندې کول. | G5 |
| د برښنایي زده کړو پراختیا او پراخه کول | S1 |
| امکاناتو او آسانتیاوو | |
| د تحصیلي خدماتو وړاندې کولو لپاره له ټولو موجوده سرچینو څخه اعظمي(تحقیقاتی فارم» لابراتوار...) ګټه پورته کول. | G6 |
| د امکاناتو او آسانتیاوو زیاتوالی | S1 |
| بشري سرچینی | |
| د بشري سرچینو د استعدادونو د پرمختګ لپاره اړیني هڅې ترسره کول. | G7 |
| د بشري قوې وده او پرمختګ | S1 |
| اړیکو | |
| د اړیکو یو پیاوړی او اغېزمن سیستم پلی کول. | G8 |
| د ګټورو اړیکو پراختیا او پالنه | S1 |
| تحصیلي خدمتونو | |
| د محصلینو تیوریکی او عملی ښه د وړتیاوو لوړولو لپاره اغېزمن تحصیلي خدمات وړاندې کول او د عادلانه لوړو زده کړو زمینه برابرول. | G9 |
| د تحصیلي خدمتونو د ساحې پراختیا او پرمختګ | S1 |

د موضوعاتو د ښې روښانتیا په پار د کوډ ټاکنې لاندې جدول ترتیب شوی دی:

(۹) جدول: د ستراتیژیک پلان د مختلفو مفاهیمو کودونه

| کوډ | په انګلیسي ژبه نوم | مفهوم | ګڼه |
|---|---|---|---|
| G | Goal | لویه/ ستراتیژیکه موخه | ۱ |
| S | Strategy | ستراتیژي | ۲ |
| I | Indicator | شاخص | ۳ |
| O | Objective | کوچنی/ لنډمهاله | ۴ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | موخه | |
| A | Activity | کړنه | ۵ |

**د ستراتیژیک لومړیتوب ټاکل**

د پورته تدوین شوو ستراتیژیانو د لومړیتوب بندی لپاره د کمي ستراتیژیکې پلان جوړوني مټرکس (QSPM) څخه ګټه پورته کوو. د دې برخې اړوند جدولونه په راتلونکو پاڼو کې کتلای شی.

د ستراتیژیکي پلان جوړوني متركس څخه په ګټني سره د ستراتیژیانو لومړیتوب بندی لاندې جدول ترتیب شوی دی.

(۱۱) جدول: د ستراتیژیانو لومړیتوب بندي

| ګڼه | ستراتیژي | د جذابیت نهایي امتیاز | د لومړیتوب درجه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کیفیت د معیارونو هر اړخیز تطبیق | ۶۸۴،۵ | لومړی |
| ۲ | د محصلینو مسلکي وړتیاوو ته د غوښتنو مطابق وده ورکول | ۲۸۳،۵ | دوهمه |
| ۳ | د بشري قوي وده او پرمختګ | ۲۱۲،۵ | دریېمه |
| ۴ | د نوښت پر بنسټ ولاړ تدریسي بهیر پلي کول | ۰۴،۵ | څلورمه |
| ۵ | د تحصیلي خدمتونو د ساحي پراختیا او پرمختګ | ۰۲۸،۵ | پنځمه |
| ۶ | د څېړنیزو ظرفیت لوړول او د علمي تشو ډکول | ۴/۶۵۴ | شپږمه |
| ۷ | د امکاناتو او آسانتیاوو زیاتوالی | ۴/۲۱۷ | اوومه |
| ۸ | د ګټورو اړیکو پراختیا او پالنه | ۰۹۲،۴ | آتمه |
| ۹ | د ځواکمني رهبرۍ په مرسته د شفافیت او مؤثریت لپاره د سرچینو ښه کارونه | ۸۳۱،۳ | نهمه |
| ۱۰ | د برښنایي زده کړو پراختیا او پراخه کول | ۶،۳ | لسمه |

له پورتني جدول څخه له ورایه ښکاري چې د «کیفیت د معیارونو هراړخیز تطبیق» ستراتیژي د (۵،۶۸۴) امتیاز په درلودلو سره د لومړیتوب د هرم په سر کې ځای لري او د « د برښنایي زده کړو پراختیا او پراخه کول» ستراتیژي بیا د (۳،۶) امتیاز په درلودلو سره د ستراتیژیانو د لومړیتوب هرم په پای کې ځای لري.

د ستراتیژیانو د لومړیتوب د هرم په سر او پای کې ځای نیول په دې معنی نه دي چې د هرم د سر ستراتیژي زیات او د پای ستراتیژي یې کم ارزښت لري، بلکي معنی یې دا ده چې، له یو اړخه، د لومړۍ درجي لومړیتوب لرونکي ستراتیژۍ د یو لړ کړنو په تطبیق سره د نورو ستراتیژیانو د تطبیق لپاره لاره هواروي او له بله اړخه، د پوهنځي امکانات او د بهرني چاپېریال الزامات ایجاب کوي چې لومړیتوبونو ته جدي پاملرنه وشي؛ ځکه د نه پاملرني په صورت کې فرصتونه له لاسه وځي او تهدیدونه پیاوړي کېږي او په دې سره د پوهنځي د ستراتیژیکو موخو ترلاسه کول ستونزمن کېږي.

**د ستراتیژیک لومړیتوب ټاکنه**

د اصولو له مخې باید ټول دولتي او خصوصي پوهنتونونه/ د لوړو زده کړو موسسات د خپلو ټاکل شوو موخو په تحقق سره، د لوړو زده کړو وزارت د ټاکل شوو موخو له تحقق سره مرسته وکړي. همدارنګه د پوهنتونونو او یا لوړو زده کړو موسساتو په چوکاټ کې ټول پوهنځي باید خپلې ستراتیژیکي موخې د اړونده پوهنتون د ستراتیژیکو موخو پر بنسټ عیارې کړي. د دې لپاره په کار ده چې د پوهنتون ستراتیژیکي موخې د خپلو موخو ټاکلو لپاره د یو لارښود په توګه په پام کې ونیول شي. دا چې د لوګر پوهنتون لویې موخې زمونږ لپاره د یو لارښود بڼه لري، نو د لوګر پوهنتون ټول ستراتیژیک لومړیتوبونه هم زمونږ لپاره همدا حیثیت لري.

د کرني پوهنځي ستراتیژیک لومړیتوب، د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیکو لومړیتوبونو، لوګر پوهنتون د ستراتیژیانو د لومړیتوب بندی، مأموریت بیانیې، ستراتیژیکو موخو او د چاپېریال د ستراتیژیکو عواملو سره د اغېزمن تعامل د لارو چارو په پام کې نیولو سره ټاکل شوی دی.

(۱۲) جدول: د کرني پوهنځي د ستراتیژیک لومړیتوب ټاکنه

| ګڼه | ستراتیژیک لومړیتوبونه | ستراتیژیاني | پروګرامونه |
|---|---|---|---|
| ۱ | زېربنا برخه | د امکاناتو او آسانتیاوو پراختیا | 1) د ټولګیو د تجهیز هڅې.<br>2) د کاري خونو او دفاترو د تجهیز هڅې.<br>3) د تدریسي بهیر د اغېزمنتیا په پار د وسایلو او امکاناتو ترلاسه کول. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 4) د استادانو او محصلینو ته د مطالعې لپاره د جدا خونو ترلاسه کول. | | | |
| ۱) د استادانو د علمي سويې اوچتولو لپاره عملي ګامونه اوچتول.<br>۲) د استادانو د مهارتونو لوړولو لپاره منظمې او سیستماتیکې هڅې.<br>۳) د استادانو د علمي رتبو اخیستو لپاره آسانتیاوې برابرول. | د بشري قوې پراختیا او پرمختیا | بشري سرچینو پرمختیا | ۲ |
| ۱) د کیفیت ښه والي پر سر د سیالۍ شدت.<br>۲) د کیفیت د کچې اوچتولو په مورد د معلوماتو شریکول.<br>۳) د کیفیت لوړاوي د معیارونو د بشپړ تطبیق لپاره منظمې او سیستماتیکې هڅې.<br>۴) د کیفیت د معیارونو د تطبیق همېشنۍ څارنه.<br>۵) د برښنايي زده کړو د تعمیم او ترویج لپاره د لارو چارو لټول<br>۶) د برښنايي زده کړو د کیفیت اوچتوالي لپاره د معقولو لارو چارو لټول. | د کیفیت د معیارونو هراړخیز تطبیق د برښنايي زده کړو تعمیم او ترویج | علمي محصولات | ۳ |
| ۱) د علمي څېړنې ترسره کولو لپاره د آسانتیاوو او امکاناتو برابرولو هڅې.<br>۲) د علمي څېړنو په شمېر کې زیاتوالی راوستل.<br>۳) د علمي څېړنو د کیفیت اوچتوالي پروګرامونو تطبیق.<br>۴) په سیستماتیکه توګه د پوهنتون په کچه د علمي - څېړنیزو سیمینارونو ورکړه او په یادو سیمینارونو کې د ګډون پراخوالی.<br>۵) د یو منظم پلان له لارې د ابتکار او نوښت زده کړې پروګرامونه عملي کول.<br>۶) د یو منظم پلان له مخې، د ابتکار او نوښت د ترویج لپاره کوښښونه.<br>۷) د ابتکار او نوښت د پرمختګ لپاره د معقولو او عملي پلانونو جوړول او د تطبیق هڅې.<br>۸) د زده کړو کیفیت ښه والي لپاره د علمي سفرونو زمینه برابرول. | د څېړنیزو ظرفیتونو اوچتوالی او د علمي تشو ډکول<br>د نوښت محوره تدریسي جریان استقرار | څېړنیز محصولات | ۴ |
| ۱) د فعالیتونو توسعې له امله د بشري سرچینو وده.<br>۲) د ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د نوو څانګو رامنځته کول.<br>۳) د بشري شرچینو د ودې په پایله کې د محصلینو په جذب کې زیاتوالی راوستل. | د تحصیلي خدماتو د محدودې پراختیا | لوړو زده کړو ته لاسرسی | ۵ |
| ۱) د یو منظم پلان له مخې د تحصیلي نصاب د اغېزمنتیا ارزونه.<br>۲) د شته تحصیلي نصاب د تطبیق ارزونه او د سمون په موخه یې د پایلو شریکول.<br>۳) په سیستماتیکه او منظمه توګه د ټولنې د اړتیاوو درک کول.<br>۴) د زده کړو د کیفیت اوچتوالي په موخه د پوهنې د نصاب بدلون لپاره د یوې جامع طرحې جوړول. | د ورځې د غوښتنو مطابق، محصلینو د کاري وړتیاوو پیاوړتیا<br>د ګټورو اړیکو پراختیا او پالنه | د ټولنې اړتیاوې | ۶ |
| ۱) د اداري فساد ورکولو په پار د منظمو فعالیتونو دوام.<br>۲) د مسئولیتونو د ادایني څخه د ډاډ ترلاسه کولو په پار د حساب ورکولو د یوې طرحې جوړول.<br>۳) د پوهنځي په کچه د اغېزمن مدیریت د اصولو د عملي تطبیق لپاره منظمې او سیستماتیکې هلې ځلې. | د ځواکمنې رهبرۍ پر مټ د سرچینو د رنې او مثالي ګټنې هڅې | ښه حکومتولي | ۷ |

**لنډمهاله/ کوچنۍ موخې**

دا چې ټول پلانونه د وړاندوینې او اټکل پر بنسټ ترتیبیږي، نو د دې لپاره چې د توقعاتو او واقعیتونو تر منځ واټن تر ټولو کمې اندازې ته رسېدلی وي، په کار ده اوږدمهاله او ستراتیژیکې موخې په لنډمهاله موخو باندې تجزیه کړل شي. کرنې پوهنځي غواړي د لاندې لنډمهاله موخو د ترلاسه کولو په پایله کې خپلو اوږدمهاله موخو او مأموریت ته ځان ورسوي:

(۱۳) جدول: کوچنۍ/ لنډمهاله موخې

| کوډ | لنډمهاله موخې (Objectives) |
|---|---|
| G1- S1- O۱ | د ځېړنیزو پروژو لپاره مناسب تمویلونکی او ملاتړ لټول. |
| G1- S1- O۲ | د ځېړنیزو فعالیتونو پراختیا او پرمختګ |
| G1- S1- O۳ | د ځېړنیزو پایلو د خپراوي او ویش لپاره اغېزمن سیستم جوړول. |
| G1- S1- O۴ | د ځېړنیزو پروژو د ترسره کولو لپاره لازمي اسانتیاوې |
| G1- S1- O۵ | د ځېړونکو او محصلینو ترمنځ د همکارۍ او شبکې جوړول. |
| G1- S1- O۶ | د علمي او ځېړنیزو کنفرانسونو او غونډو تنظیم |
| G1- S1- O۷ | د ځېړونکو او محصلینو د هڅونې او انګېزې لپاره لازمې پروګرامونه |
| G1- S2- O۸ | د تدریسي بهیر په نوښت او نوې لارې چارې کې بدلون راوستل |
| G1- S2- O۹ | د ابتکار او نوښت د ودې او تطبیق لپاره مشخص ګامونه پورته کول |
| G1- S2- O۱۰ | د نوښت او ابتکار فرهنګ عامول او وده |

(۱۴) جدول: کوچنۍ/ لنډمهاله موخې

| کوډ | لنډمهاله موخې (Objectives) |
|---|---|
| G2- S1- O1 | د اغېزمن مشارکتي مدیریت |
| G2- S1- O2 | د رهبرۍ د مهارتونو لپاره ځانګړې روزنیزې برنامې ترتیبول. |
| G2- S1- O3 | د مسئولیت احساس پیاوړی کول |
| G2- S1- O۴ | د مالي او اداري چارو د شفافیت لپاره اقدامات کول. |
| G2- S1- O۵ | د اداري فساد پر وړاندې منظم مبارزه |
| G2- S1- O۶ | د غوره چارو لپاره د انګېزونې او تشویق سیستم جوړول. |
| G2- S1- O۷ | د مالي او معنوي ملاتړ ترلاسه کول |

(۱۵) جدول: کوچنۍ/ لنډمهاله موخې

| کوډ | لنډمهاله موخې (Objectives) |
|---|---|
| G3- S1- O۱ | د تحصیلي نصاب د عصري کولو لپاره اړینې سلا مشورې ترسره کول. |
| G3- S1- O۲ | د زده کړو نصاب اغېز ارزونه |
| G3- S1- O۳ | د نصاب د معیارونو سره د محصلینو اړتیاوې او دندو ته پام کول. |
| G3- S1- O۴ | د زده کړو په پروسه کې د محصلینو تمرکز |
| G3- S1- O۵ | د نصاب د ښه کولو لپاره د استادانو او محصلینو نظریات اخیستل. |
| G3- S1- O۶ | د فارغ شوي محصلینو د کاري وړتیاوې کتنه |

(۱۶) جدول: کوچنۍ/ لنډمهاله موخې

| کوډ | لنډمهاله موخې (Objectives) |
|---|---|
| G4- S1- O۱ | د کیفیت د ارزونې لپاره مستقل او مستقل کمیټې جوړول. |
| G4- S1- O۲ | د کیفیت د لوړولو لپاره معیارونه تشریح کول |
| G4- S1- O۳ | د ښوونې او روزنې معیارونو ته د تطابق لپاره پروګرامونه جوړول. |
| G4- S1- O۴ | د کیفیت لوړولو لپاره د معیارونو پلي کول |
| G4- S1- O۵ | د کیفیت د لوړولو لپاره استادانو ته مسلکي پرمختیایي فرصتونه برابرول. |
| G4- S1- O۶ | د کیفیت لوړولو د معیارونو د پلي کولو ارزونه |
| G4- S1- O۷ | د بشپړ اکاډمیک اعتبار ترلاسه کولو لپاره مرسته |

(۱۷) جدول: کوچنۍ/ لنډمهاله موخې

| کوډ | لنډمهاله موخې (Objectives) |
|---|---|
| G5- S1- O1 | د برښنایي زده کړو موثریت زیاتول او د هغه اغېزې زیاتول. |
| G5- S1- O۲ | د آنلاین درسي موادو او درسي پلیټ فارمونو ښه کولو لپاره نوښتونه کول. |

| | |
|---|---|
| د محصلینو او استادانو لپاره د برښنایي زده کړې په برخه کې روزنیز پروګرامونه جوړول. | G5- S1- O۳ |
| د ټکنالوژۍ په برخه کې د پرمختګونو په کارولو سره د زده کړو اغېزمنتیا لوړول. | G5- S1- O۴ |
| د برښنایي زده کړو د پراختیا لپاره هڅې او اقدامات کول | G5- S1- O۵ |

(۱۸) جدول: کوچنۍ/ لنډمهاله موخې

| لنډمهاله موخې (Objectives) | کوډ |
|---|---|
| د لابراتوارونو او څېړنیزو فارمونو په اغېزمنه توګه کارول. | G6- S1- O۱ |
| تدریسي خونو ته پرمختللې وسایل او معیاري کول برابرول | G6- S1- O۲ |
| د تحقیقي پروژو لپاره مناسبې سرچینې برابرول. | G6- S1- O۳ |
| د کار دفترونه او خونو زیاتول او وده ورکول | G6- S1- O۴ |
| د محصلینو د ظرفیت لوړولو لپاره د موجودو وسایلو او تجهیزاتو اغېزمن استعمال. | G6- S1- O۵ |
| د کار لپاره لازمې آسانتیاوې او امکانات برابرول | G6- S1- O۶ |

(۱۹) جدول: کوچنۍ/ لنډمهاله موخې

| لنډمهاله موخې (Objectives) | کوډ |
|---|---|
| د استادانو او کارکوونکو لپاره مسلکي روزنې او پرمختګ برنامې ترتیبول. | G7- S1- O1 |
| د استادانو او کارمندانو د علمي کچې لوړول | G7- S1- O۲ |
| د استادانو لپاره د علمي او تحقیقي فعالیتونو فرصتونه زیاتول. | G7- S1- O۳ |
| د استادانو او کارمندانو د مسلکي او تخنیکي پوهې ارتقا | G7- S1- O۴ |
| د استعدادونو د ودې لپاره د انګېزونې او تشویق سیستم جوړول. | G7- S1- O۵ |
| د استادانو د علمي رتبو لوړوالی | G7- S1- O۶ |

(۲۰) جدول: کوچنۍ/ لنډمهاله موخې

| لنډمهاله موخې (Objectives) | کوډ |
|---|---|
| د پوهنځیو، استادانو، او محصلینو ترمنځ د اړیکو لپاره مشخص مېکانیزم جوړول. | G8- S1- O۱ |
| د استادانو او محصلینو ترمنځ د علمي همکاریو زیاتولو لپاره فرصتونه برابرول. | G8- S1- O۲ |
| د بهرنیو پوهنتونونو او موسسو سره د اړیکو او همکارۍ لپاره نوې لارې چارې برابرول. | G8- S1- O۳ |
| د اړیکو اغېزمن مدیریت | G8- S1- O۴ |
| د همکاریو د هوکړه لیکونو لاسلیکول | G8- S1- O۵ |

(۲۱) جدول: کوچنۍ/ لنډمهاله موخې

| لنډمهاله موخې (Objectives) | کوډ |
|---|---|
| د عملي زده کړو لپاره لابراتوارونو او فارمونو ته د محصلینو لاسرسی آسانول. | G9- S1- O۱ |
| د محصلینو د نظري او عملي پوهې د ارزونې لپاره مؤثرې او نوې میتودونه استعمالول. | G9- S1- O2 |
| د زده کړو عادلانه فرصتونو لپاره د مالي او اکاډمیک مرستو پلانونه جوړول. | G9- S1- O3 |

Logar University

Agriculture Faculty

Strategic Plan Committee

# Strategic Plan

## (2025 - 2029)